**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهوررئیس**

**جلالتمآب محمد اشرف غني د سولې لار نقشه**

## د سولې مالکیت

موږ هره ورځ د فاجعې شاهدان یوو. هره اونۍ له بېلابېلو اقشارو څخه په اوسط ډول سل تنه افغانان وژل کېږي. کومه پیمانه تشدد چې پر موږ تحمیل شوی، یوه تراژیدي ده.

افغانانو د دغې فاجعې پر وړاندې څه ډول عکس العمل ښودلی؟ آیا د نا امیدۍ څرګندونه یې کړې؟ نه، دوی له یوې قوي عقیدې سره په خورا چټکتیا تکل کړی چې یوه پایداره او ټولشموله سوله راشي. داسې سوله نه چې د یو کاغذ په لاسلیک سره راشي، بلکې داسې سوله چې د تېرو څلورو لسیزو ستونزو او شخړو ته د پای ټکی کېږدي.

اجازه راکړئ چې د واقعي بېړې او غیر واقعي بېړې یا عجلې تر منځ توپیر واضح کړم. غیر واقعي بېړه یا عجله پرته له یوه مسیر څخه، عجولانه اقدامات دي چې معمولا د سیاسي فرصت او له یوګوني مسیر پرته سر ته ورسېږي ـ سولې ته د رسېدو لپاره دا یوه خطرناکه او سطحي لاره ده، موږ باید له دغسې عجلې څخه ځان وساتو.

واقعي بېړه هغه ده چې زموږ ټول تمرکز پر دې وي چې پایداره سوله څنګه راځي. دغه ډول بېړه موږ ته فرصت راکوي چې حساسو موضوعاتو ته پام وکړو، خپلې ستونزې درک کړو او مسوولیت یې واخلو. له خپل تېر او د نورو ټولنو له تجربو څخه درس واخلو. دا د سولې هر اړخیز دقیق فکر ته اړتیا لري، خو موږ باید د دې جرأت هم ولرو چې خطرونه ومنو او د سولې بهیر مسؤلیت په غاړه واخلو.

د دغه ډول فکر پایله به دا وي چې موږ د داسې یوې پروسې او پروګرام تګلاره جوړه کړو چې د یوې ولسواکې ټولنې پر بنسټ ثبات، امنیت او ټولشموله ودې ته لاره هواره کړي.

د ملي یووالي حکومت سولې ته د رسېدو لپاره د واقعي بېړې په درشل کې دی. موږ دغسې عجله له کلونو راهیسې لرله، او موږ مخکې له مخکې د پایدارې سولې لپاره په تېرو پنځو کلونو کې زمینه برابره کړې ده. د ۲۰۱۸ کال فبرورۍ په ۲۸ د سولې وړاندیز د دغې عجلې یوه بېلګه ده. موږ پرته له کوم قید او شرطه د سولې وړاندیز وکړ.

لاندې ټکو ته په پام موږ وړاندیز وکړ چې طالبان دې د ټولشموله او ولسواکې ټولنې برخه شي:

1. اساسي قانون سره سم د ټولو اتباعو(په ځانګړي ډول ښځو) د حقوقو او مکلفیتونو تامینول؛
2. د اساسي قانون منل یا د اساسي قانون له احکامو سره سم د هغه تعدیل؛
3. له قانون سره سم د ملکي خدمتونو، امنیتي او دفاعي ځواکونو د فعالیتونو پر مخ وړل؛
4. هیڅ یوې وسلهوالې ډلې ته چې له بهرنیو تروریستي شبکو، بهرنیو تخریبي سازمانونو، دولتي یا غیر دولتي بنسټونو سره چې په افغانستان کې د نفوذ په لټه وي، اجازه نه ورکول.

دغو موخو ته رسېدو لپاره باید افغانستان مستقل او خپلواک وي. موږ باید لنډمهاله ګټو لپاره پایدار سوله قرباني نه کړو، دا به زړې شخړې په لا پراخه توګه بیا تازه کړي او د افغانستان اوسنی او

راتلونکی نسل به له ورانی او بدمرغی سره مخ کړي. موږ باید رواني جګړې ته د تل لپاره د پای ټکی کېږدو.

د ۲۰۱۸ کال له فبروري را پدېخوا، په ځانګړي توګه د جنیوا کنفرانس څخه یو څو اونی د مخه موږ د سولې تګلاره له مختلفو اقشارو سره د مشورو په بنسټ بیا راجوړه کړه. په تېرو اتو میاشتو کې ما د ولس مختلفو اقشارو ښځو، ځوانانو، ښار مېشتو او کلیوالو خلکو، د مدني ټولنې له استازو او له اوسنیو او پخوانیو سیاسي رهبرانو او نخبه ګانو سره مشورتي ناستې لرلې. هر قشر ځانګړی لید لري، خو د دوی ترمنځ مشترک ټکي د لاندې ټکو بیا تازه کول دي:

1. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پر اهمیت او اعتبار اجماع؛
2. نړیوالې ټولنې سره زموږ اساسي شراکت؛
3. د سولې پروسې مالکیت او رهبري باید د افغانستان حکومت سره وي.

د دغو مشورو په ترڅ کې خلکو وېره او اندېښنه هم وښودله. ډېری اندېښنې په رسنیو کې د هغو شایعاتو په هکله وې چې ګواکې داسې اختیار هم تر بحث لاندې دی چې اساسي قانون به تر پښو لاندې کېږي او موقت حکومت به جوړیږي، د اتباعو حقوق، په ځانګړي ډول د ښځو حقوق به قرباني کېږي او نړیواله ټولنه به ځوان افغان نسل یواځې پرېږدي، هغه نسل چې د افغانستان معاصر تاریخ تر ټولو مهم او اغېزناک نسل دی.

ما دغه ډول هیله مندی او اندېښنې اورېدلي او دا راته بیا بیا ثابته شوې چې افغانان په سوله او د سولې د راوستو په قیمت پوهېږي. افغانان په ذهني او احساساتي لحاظ تیار دی چې تېر هېر کړي او ښه راتلونکی خپل کړي. او دا زما او د حکومت پرېکنده تصمیم لا پیاوړی کوی، تر څو د سولې پروسې مالکیت او رهبري واخلو.

سره له دې، زموږ ټولنه جدي هیله لري چې نړیواله ټولنه په دې پروسه کې رغنده رول ولري، چې په دې کې اسلامي عرب هېوادونه، زموږ سیمه‌ییز ګاونډي او نړیوالې اداري هم شاملې دي.

د پایداره سولې په تکل کې باید موږ د ۱۹۹۲ کال تجربه تکرار نه کړو، هلته موږ د ثبات او امنیت پر ځای د پراخو شخړو شاهدان ؤ چې زموږ انساني، ټولنیزه او اقتصادي پانګه له بربادی سره مخ شوه. افغانان بیا مهاجرت نه کوي. موږ به پرېنږدو چې زموږ لاسته راوړنې د بې پروایی او عجولانه پرېکړو قرباني شي. موږ د واضح لید او متمرکز مسیر لپاره واضح لید لوری لرو تر څو د خپلو امنیتي او دفاعي ځواکونو د قربانی استازیتوب وکړو او د خپلو خلکو هیلې منعکسي کړو.

## د سولې رهبري

اوس غواړم ووایم چې موږ څنګه د سولې پروسه رهبري کوو او د پروسې په کومه مرحله کې یوو.

سولې لپاره زموږ لید د الله (ج) په احکامو استوار دی، په ۴۱:۳۴ آیت کې الله تعالی فرمایي:

> **"ښېګنې او بد ګنې (نیکي او بدي) سره برابرې نه دي، نو بدګنې په نیکی دفع کړه څو هغه دښمني چې ستاسی ترمنځ ده په دوستی بدله شي".** (د مبارک آیت پښتو ژباړه)

د کابل پروسه دغه لید په ځانګړو کړښو کې بیانوي او یوه جامع تګلاره په لاس راکوي. د فبروري په میاشت کې د سولې او ثبات لپاره موږ شپږ ټکي وړاندې کړل. اجازه راکړئ چې د دغو هڅو یو لنډیز تاسي ته وړاندې کړم:

1. د کوچني اختر په جریان کې طالبانو ته د سولې وړاندیز په اړه موږ یو بې سابقې نړیوال او دیپلوماتیک ملاتړ تر لاسه کړ. په تېره جولای میاشت کې د ناټو ناستې هم زموږ د سولې د وړاندیز او په جون کې یې د اوربند د ملاتړ اعلان وکړ. موږ د خپلو ټولو نړیوالو شریکانو، په ځانګړې توګه د امریکا د متحدو ایالتونو څخه مننه کوو چې د کابل پروسه یې په سیستماتیک ډول حمایه کړه. موږ له تاسي ټولو څخه نن هم مننه کوو چې سوله، چې له مخکې د پراختیا په برخه کې د متقابلو ژمنو برخه وه، اوس مو د دې کنفرانس یوه اساسي برخه وګرځوله. همدارنګه غواړم د چین، د عربي متحده اماراتو، سعودي عربستان او هند نه مننه وکړم چې موږ سره یې په مختلفو سطحو (دوه جانبه، درې جانبه او څو جانبه ناستو) کې د سولې خبرو لپاره خپلې رغنده هڅې کړي.

2. موږ له ازبکستان څخه مننه کوو چې د تاشکند کنفرانس یې دایر کړ او د هېوادونو او سیمه ییزو ادارو هڅې یې د کابل پروسې سره موازي کړې. د تاشکند ناسته د مستقلو هېوادونو د مساوات د نړیوال اصل یوه بېلګه ده چې د افغانستان د حکومت لخوا جوړه او د افغانستان او ازبکستان لخوا یې په ګډه کوربه توب وشو. د افغانستان ثبات، امنیت او نېکمرغي په دې کې نغښتې چې د افغانستان استقلالیت او د سولې پروسه کې د افغانستان مالکیت او رهبریت رعایت شي.

3. موږ د اسلامي ټولنې د اجماع او همکارۍ څخه هم مننه کوو چې د رواني بې پولې جګړې څخه یې مذهبي مشروعیت واخیست. موږ د اندونیزیا حکومت او علماوو څخه مننه کوو چې د روان کال د می میاشتې په ۱۱ نېټه یې په جاکارتا کې د افغان، پاکستاني او اندونیزیایي علماوو جلسه جوړه کړه او په شرعي لحاظ یې د نامحدوده جګړې، ملکیانو په وړاندې تشدد او د ځانمرګو بریدونو په وړاندې فتوا ورکړه او هغه یې د اسلام د اصولو خلاف وباله. موږ د اسلامي همکاریو سازمان څخه هم مننه کوو. په اندونیزیا کې د علماوو کنفرانس، د نړۍ برجسته مفتیانو د اسلامي همکاریو سازمان په کنفرانس کې، د جګړې خلاف مکې مکرمې او مدینې منورې امامانو تقریر او د حرمینو شریفینو خادم پاچا سلمان بن عبدالعزیز آل سعود ملاتړ له اسلامي اړخه د جګړې دیني مشروعیت او توجیه واخیسته. هغه تروریستان چې په غلطه یې د جهاد دعوه کوله او هغه هېوادونه چې د هغوی ملاتړ کوي رسوا شول.

4. موږ د همغږې نړیوالې هڅې غوښتنه وکړه چې پاکستان وهڅوي چې د دولتونو ترمنځ جامع مذاکرات وکړي او د افغانستان له خوا طالبانو ته د سولې وړاندیز ملاتړ وکړي. زموږ غوښتنه اوس په ځای شوې او نړیوالې هڅې رواني دي. د دولتونو تر منځ خبرې پر کاغذ یوې پایلې ته رسېدلې او د سولې او پخلاینې لپاره د افغانستان – پاکستان دعمل پلان توافق رامنځته شوی، خو په عملي ډګر کې پرمختګ صفر دی. له هوکړې څخه عمل ته حرکت نشته.

5. پنځم او شپږم عناصر زموږ غوښتنې دي چې د سولې توافق په عملي کولو کې له موږ سره مرسته وشي او د سوداګرۍ، ترانزیټ او پانګونې له لارې د سولې راوستلو ملاتړ وشي، او همدارنګه د ۲۰۱۹ کال ټاکنو په درشل کې د حکومت د اصلاحاتو اجنډا او د فساد په وړاندې ستراتیژۍ ملاتړ وشي.

موږ به دې ټکو ته بېرته راګرځو خو خوښ يم چې په دې کنفرانس کې د رغنده مذاکراتو لپاره زمينه برابره شوې. تر څو خپل تر سره شوي فعاليتونه لا تقويه کړو، موږ په دې باور يوو چې طالبانو سره دسولې لپاره زموږ ليد مهربانۍ، باور او زړورتيا ته اړتيا لري.

د ۲۰۱۸ کال په کوچني اختر کې اوربند د علماوو باور او عقيده، د حکومت او امنيتي ځواکونو زړورتيا او د خلکو مهرباني ننداري ته وړاندې کړه.

د ۲۹۰۶ افغان علماوو را ټولېدل او د سولې په اهميت فتوا ورکول، او د مسلمانانو په منځ کې د معضلو حل لاره او جګړه د اسلام او شريعت خلاف بلل يوه بې مخينې موضوع ده. دغو علماوو له حکومت او طالبانو وغوښتل چې اوربند اعلان کړي.

سولې ته د رسېدو لپاره د حکومت واقعي بيړې موږ ته جرأت او باور راکړ او موږ د علماوو له فتوا څلور ورځې وروسته د اوربند غوښتنه وکړه. د علماوو منطق دومره قوي ؤ چې طالبانو هم مثبت ځواب ورکړ او اوربند يې ومانه، پرته له يو څو وړو پېښو، اوربند په سوله ييزه فضا کې ترسره شو.

د اوربند پر مهال د افغانانو مهرباني او زغم زموږ سياسي فرضيې بدلې کړې، دخپلو ځانونو په اړه يې زموږ نظر بدل کړ او د راتلونکي لپاره يې هيله من کړو. تر ۳۰،۰۰۰ ډېرو طالبانو، چې ډېری يې ځوانان ؤ، ښارونو ته راغلل او خپلو وطنوالو سره يې جدي بحثونه وکړل، وسله والو ځواکونو سره يې خبرې وکړې، ښځينه فعالينو سره يې بحثونه وکړل، خپلو مسلمانو ورونو سره يې په جوماتونو کې لمونځونه وکړل او دولتي چارواکو او مختلفو اقشارو سره يې ډوډۍ وخوړله.

افغان ماشومانو له ۳۹ کلونو وروسته يو واقعي اختر درلود او د باندې لوبو ته ووتل او خپلوانو او ملګرو سره يې وکتل.

**اوربند درې برجسته ټکي لرل:**

1. سره له دې چې ۱۰۰۰ کسه د اوربند څخه د مخه تلف شوي ؤ، افغاني ټولنې وښوده چې مهربانه ده او دې ته ژمنتيا لري چې تېر هېر کړي او راتلونکی وسنجوي.
2. معمولي ادعاوې دا وې چې طالب جنګيالي به هېڅکله سولې ته غاړه کېنږدي، دا ادعاوې ناسمې ثابتې شوې او طالبانو د اوربند په ورځ په تکراري ډول وويل، چې له جګړې او تشدده ستړي دي.
3. زموږ امنيتي ځواکونو د اوربند څخه مخکې او وروسته زړورتيا او اتلولي وښودله. دوی ثابته کړه چې دوی د افغانستان د امنيت او ثبات رښتوني ساتونکي دي او د خپل منتخب رهبر او سراعلی قومندان لارښوونو ته ژمن دي.

اجازه راکړئ د خپلو امنيتي او دفاعي ځواکونو په هکله يو څو ټکي وړاندې کړم.

د دوی وطنپالنې او قرباني په هېواد کې د وطنپالنې حس پياوړی کړی. د سر اعلی قومندان په حيث زه په دوی وياړم. په تېر کې زموږ ځواکونه پخواني رهبران د اجيرو ځواکونو په حيث پېژندل، په تېرو څلورو کلونو کې دغه رويه بدله شوه، اوس امنيتي ځواکونه د حکومت تر ټولو با اعتماده بنسټ ګڼل کېږي. افغانان پر دوی وياړي.

د ۲۰۱۵ کال جنوري په اوله ملي امنيتي ځواکونو زموږ د آزادۍ او نړيوال امنيت تضمينولو مسؤليت په غاړه واخيست، او د ترهګرۍ په وړاندې لومړۍ کرښه کې واقع شول. ۲۰۱۵ کال څخه را پدېخوا د نړيوالو ځواکونو تلفات ۵۹ کسان ؤ، ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۴ پورې د نړيوالو ځواکونو تلفات ۲۷۴۴ ؤ. خو د ۲۰۱۵ کال جنوري میاشت څخه را پدېخوا افغانانو ۲۸۵۲۹ زامن او لوڼې په جګړه کې له لاسه ورکړي.

دا يواځې ارقام نه دي. دوی خپل ګران ژوند له لاسه ورکړ، اکثريت د دوی څخه د خپلې کورنۍ ډوډۍ ګټونکي ؤ، دوی زموږ د ولس وياړ ؤ. زه به غلی پاتې نه شم او پرې به نه ږدم چې د افغانانو يو بل نسل د جګړې قرباني شي. يو ځل بيا غواړم تکرار کړم، سوله زموږ لومړيتوب دی.

د غوڅ ملاتړ ماموريت ځواکونو څخه مننه کوو چې زموږ ځواکونو سره مرسته کوي، هغوی ته مشوره ورکوي او ملاتړ يې کوي، خو دا بايد واضح وي چې جګړه افغانان کوي او قرباني کېږي هم دوی، نه يوازې دا چې په افغانستان کې د اساسي قانون پر بنسټ د جوړ شوي نظام، استقلاليت، ملي وحدت او د افغانانو ژوند او خوښي څخه ساتنه کوي، بلکې د تروريزم پر وړاندې په لومړۍ کرښه کې جنګيږي تر څو نړۍ د تروريزم له ګواښ څخه په امن کړي.

د يو ولس، هېواد او دولت په حيث زموږ د حقوقو په دفاع کې د شهيد شويو افغان او نړيوالو ځواکونو او ملکيانو د شهادت په حرمت د يو څو شېبو لپاره سکوت کوو. **(10ثانيي سکوت)**

مننه. د قانون سره سم زموږ د امنيتي او دفاعي ځواکونو او ملکي خدمتونو د فعاليت دوام پايداري سولې او امنيت لپاره اړين دی.

## د جګړې ابعاد او ماهيت

له يوې خوا واقعي بيره يو واضح ستراتيژيک تمرکز، منطقي بحث، په سړو مغزو فکر او جامع مذاکراتو ته اړتيا لري، له بلې خوا هره ورځ زموږ خلک پر نهادونو، پانګې او ظرفيتونو د شديدو بريدونو له کبله په دوامداره توګه ويرجن دي. د افغانانو په خلاف نا قابل ذکر جنايتونه کېږي.

زموږ په ټولنه او خلکو تپل شوې جګړې ته "بې سرحده جګړه" ويلی شو. د کوڅو، روغتونونو، جوماتونو، پوهنتونونو، سوداګريز ځايونو، ورزشي ځايونو او ښوونځيو په شمول زموږ د ژوند هېڅ داسې ساحه نه ده پاتې چې تر بريد لاندې نه وي راغلې.

وروستی بريد چې د نومبر په ۲۲ تر سره شو، ټولې پولې يې ونړولې. د علماوو يوه ستره غونډه چې د مولود شريف په مناسبت وه او خلکو د قرآنکريم آيتونه په کې تلاوت کول ځانمرګی بريد ورباندې وشو.

د داسې جنايت تر سره کول دا ښيي چې پر موږ تپل شوې جګړې د انسانيت ټولې پولې ونړولې او د ټولو اديانو، په ځانګړې توګه د حضرت محمد (ص) د زغم او سولې پيغام يې تر پښو لاندې کړ.

دا يو بې سرحده، نا اعلان شوې جګړه ده. د بدلون په حال کې دغه جګړه څلور ابعاد لري:

1. په ۱۹۹۰ لسيزه کې د القاعده له خوا زموږ د هېواد يرغمل کولو څخه را پدېخوا تر پولو ورهاخوا ترهګريزو شبکو موږ په نښه کړي يوو. د دوی نړيتيف دا دی چې د افغاني ټولنې او

دولت تباهی له لارې په نړیواله کچه خپل ترهګریزو او ورانکارو موخو ته ورسېږي. دوی افغانانو ته د ورکولو لپاره هېڅ نه لري. دوی زموږ له ستراتیژیک موقعیت څخه ګټه اخیستې تر څو په سیمه او نړۍ کې فاجعې وزېږوي. د دې تروریستي شبکو هدف افغانستان نه دی، بلکې یو حساس ځای دی چې له دې ځایه ابزاري استفاده وکړي، له بده مرغه په همدې دلیل د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ګمراهان دلته راځي او زموږ ټولنې ته مرګونه او تاړاک له ځانه سره راوړي.

2. د جګړې دویم عامل بین المللي جرمي سازمانونه دي. لکه څنګه چې د کوکین قاچاقبران په کولمبیا کې شخړو ته لمن وهي، همداسې د هیرویین قاچاقبران زموږ په هېواد کې د بې ثباتۍ او جګړې عاملین دي. په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان له تریاکو څخه بزګرانو ۱،۴ ملیارده ډالر عاید ترلاسه کړي دي او همدغه عاید په ۲۰۱۸ کال کې ۰،۶ ملیارده ډالر محاسبه شوی. خو د روسیې، اروپا، استرالیا او کاناډا په کوڅو کې د همدغو تریاکو ارزښت سلګونه ملیارده ډالرو ته رسېږي. دا زموږ مجموعي ناکامي ده چې نه یوو توانېدلي افغانستان کې یو کرنیز تحول رامنځته کړو او دا نه یواځې د فقر او بې عدالتۍ د تداوم باعث شوی، بلکې بین المللي جنایي سازمانونو ته یې فرصت برابر کړی، تر څو د افغان بزګرانو له حالت څخه بده استفاده وکړي.

3. درېیم بعد یې د ځینو ګاونډیو، په ځانګړې توګه د یو ګاونډي، عدم عمل دی چې ملګرو ملتونو د منشور په اساس د تروریزم په وړاندې خپله وجیبه تر سره کړي. له بده مرغه د طالبانو بریدونو او تشدد په وړاندې د افغان حکومت هڅې چې خپل اتباع په امن کې وساتي د همدې ګاونډي له خوا ننګول شوي. سره له دې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه د طالبانو مقابله کوي او هغه شبکې پاشي چې پر افغانانو بریدونه کوي، ځینې ګاونډي هېوادونو پوره همکاري نه ده کړې تر څو د طالبانو مخه ونیسي او پرې نه ږدي چې په افغانستان کې دننه د جنګیالو استخدام، روزنې او ملاتړ ته دوام ورکړي. که چېرې د افغانستان جګړه یواځې کورنۍ اړخ درلودی، اوس به جګړه لا پخوا خلاصه وه. موږ په تکراري ډول ویلي چې ګاونډیو سره زموږ اړیکې باید دریو بعدونو باندې استوارې وي: ۱) سیمې څخه د جګړې د ځالو لرې کول، ۲) د سیمې ټولو هېوادونو تر منځ د همکارۍ په اساس نورمالې اړیکې رامنځته کول او ۳) د تروریزم په وړاندې پر یو چوکاټ موافقه کول.

4. د جګړې څلورم عامل افغان طالبان دي. دوی له اصله افغانان دي، نو ځکه د افغان وګړو او دولت په حیث خپلې ستونزې په خپل منځ کې باید تر بحث لاندې راولو، خپل اختلافات له منځه یوسو او شریک ارزښتونه او موخې په ورین تندي ومنو. د همدغه بستر په اساس موږ افغان طالبانو ته د سولې لپاره پرته له کوم شرطه د مذاکراتو وړاندیز وکړ. زموږ استدلال دا دی چې طالبانو د جګړې درې نورو عاملینو ته د فعالیت بستر برابر کړی تر څو خپلې بې سرحده جګړې ته دوام ورکړي. زموږ پوښتنه طالبانو څخه دا ده: آیا تاسې غواړئ تر څو د یادو درې عناصرو د قربانۍ پسه شئ، خپل افغان ورونه او خویندې ووژنئ، او خپله هم د نورو اجنډاګانو او ګټو په لاره کې مړه شئ؟ طالبانو ته یو واضح پیغام لرم—طالبان په دې مرحله کې واضح انتخاب لري، چې موږ یې ورته واضح کوو—یا د افغانانو په څېر کردار او عمل وکړئ، د هغو عناصرو په لاس مه غولېږئ چې د یو ملت په حیث زموږ جمعي راتلونکي ته هېڅ لید نه لري، نه هم زموږ پت، آزادي او استقلالیت ته درناوی لري.

## طالبانو سره د سولې مذاکرات

د راتلونکي لپاره زموږ تګلاره څه ده؟

د دې بې سرحده جګړې ختمولو لپاره موږ باید په ملي او سیمه ییز اسلامي بعد باندې کار وکړو او د جګړې لاملونه له منځه یوسو. طالبانو سره د سولې په هکله زموږ باور، مهرباني او زړورتیا د فبروري له وړاندیزه او هغه پسې زموږ اقداماتو څخه څرګنده ده، کوم چې ما مخکې ذکر کړل.

دلته زه غواړم له طالبانو سره د مذاکراتو په اړه زموږ د فکر د څرنګوالي، په دغه برخه کې د ځینو پریکړو او ددغه لړۍ د پرمختلو وړلو د څرنګوالي په اړه له تاسې سره ځېنې ټکي شریک کړم.

1. **تر ټولو د مخه**، زه خوشاله یم دا اعلان کړم چې د مذاکراتو لپاره زموږ ۱۲ کسیز ټیم د جمهوری ریاست د دفتر رئیس ، سلام رحیمي په مشرۍ تیار دی. رحیمي جهادي سابقه لري او مدني ټولنه کې د تجربو خاوند دی. په ټیم کې ښځې او سرې دواړه شته او د دې تجربه لري چې د سولې مهمې ننګونې اوارې کړي، په ځانګړې توګه د پلې کولو یو عملي او با اعتباره پلان عملي کولو صلاحیت لري.

2. **دویم**، د دې لپاره چې اجماع یقیني شي او د مذاکراتو ټیم ته مسیر وټاکل شي، زه همدارنګه د افرادو یو متنوع ګروپ جوړېدلو اعلان هم کوم چې دا ګروپ به د ولسمشر د مشورتي بورډ په حیث کار کوي او د ادرسونو یو ادرس په شکل به د سولې مذاکراتو په بهیر کې په حساسو موضوعاتو ولسمشر ته مشوره ورکوي.

3. **درېیم**، د سولې عالي شورای د غوښتنو او د حکومت د غوښتنو په اساس به د یادې شورای جوړښت باندې تجدید نظر کېږي تر څو په عامه پوهاوي تمرکز وکړي او د سولې تړون څخه وروسته مراحلو کې حکومت ته مشوري ورکړي.

4. **څلورم**، اجازه راکړئ چې د سولې لپاره زموږ طرحه او مسیر درته واضح کړم. زموږ موخه دا ده چې د طالبانو او حکومت له خوا د اساسي مسئلو لېست جوړ کړو، او بیا دغه مسئلې په یو لړلیک/فهرست کې د لومړیتوبونو په اساس طبقه بندي کړو. بیا هره اساسي موضوع د طالبانو او حکومت ګډې کمېټي ته سپارو، د مذاکراتو دواړه خواوې او هغه افغانان چې هماغې موضوع کې مسلکي وي هم کمېټه کې ګډېږي. د طرفینو، طالبان او افغان حکومت، مذاکراتي ټیمونه به په هغو موضوعاتو تمرکز کوي چې موږ سره وېشي او حل کولو ته اړتیا لري.

5. مذاکرات طبعا په څو مرحلو کې کېږي، زموږ وړاندیز دا دی چې لاندې تسلسل په نظر کې ونیول شي:

a. لومړۍ مرحله به یې بین الافغاني وي، چې د سولې اړوند لاندې شپږ ټکي په نظر کې نیول کېږي.

i. د سولې لپاره سیاسي چوکاټ وضع شي: اوربند رامنځته شي، طالبان د یوه سیاسي ګوند په توګه په رسمیت وپېژندل شي، د باور جوړونې ترتیبات ونیول شي او عادلانه او آزادو ټاکنو ته لاره اواره شي.

ii. د سولې لپاره حقوقي چوکاټ وضع شي: د غوښتنې په صورت کې په اساسي قانون کې د پیشبیني شوې قانوني پروسې له لارې د اساسي قانون بیا کتنه وشي، عدالت وضع شي، شکایات رفع شي، قوانین او فرامین رامنځته شي او د بندیانو د آزادولو او د بندیزونو له لستونو څخه د ایستلو لپاره قانوني لارې چارې تعقیب شي.

iii. د افغانستان دولت بیا سازماندهي شي: د قانون حاکمیت ته درناوی وشي، اصلاحاتو ته لاره اواره شي او د متوازن پرمختګ او د کډوالو د راستنېدلو او داخلي بې ځایه شویو لپاره انتظامات وشي.

iv. سوله او امنیت: د ټولو اتباعو، په تېره د پخلا کېدونکیو طالبانو د امنیت لپاره تدابیر ونیول شي.

v. اقتصاد او ټولنیز پرمختګ لپاره پروګرامونه پلي شي: ټولشموله او پایداره وده، عامه شتمنیو او ځمکې ته د مساوي لاسرسي مساعدول، د فساد په وړاندې مبارزه، په ملي کچه د دندو تولیدول، او په ملي پروګرامونو کې کډوالو او پخوانیو جنګیالیو ته ځای ورکړل شي.

vi. نړیوالې ټولنې سره شراکت او د هغوی ملاتړ تر لاسه کول: د ډیپلوماتیک مالي ملاتړ په ترلاسه کولو، د بهرنیو جنګیالیو د برخلیک معلومولو او له لستونو څخه له سولې سره د یو ځای کېدونکو افغانانو د نومونو د ایستلو په برخه کې همکاري ترلاسه شي.

b. دویمه مرحله پاکستان، د امریکا متحدوایالتونو او ناټو سره ګډې خبرې دي. د ناټو، د امریکا د متحدو ایالتونو او افغانستان تر منځ اړیکي د دوه اړخیزو ستراتیژیکو او امنیتي همکاریو موافقتنامې او د ځواکونو د وضعیت موافقتنامه د قراردادونو په اساس رامنځته شوې. یاده موافقتنامې ټول علني سندونه دي او د مشورتي لویو جرګو او پارلمان له خوا تصویب شوي. مګر د طالبانو او پاکستان تر منځ اړیکي د پردو تر شا دي. د ملګرو ملتونو په میثاق کې د استقلالیت او د نورو دولتونو په چارو کې د نه مداخلې اصول درج دي. دا اړیکه باید واضح شي.

c. دریېمه مرحله کې د سیمې هېوادونه لکه چین، هند او زموږ ګاونډي هېوادونه اشتراک کوي.

d. څلورمه مرحله به د اندونیزیا، متحده عرب امارات او سعودي عربستان په شمول د عرب – اسلامي هېوادونو ملاتړ حاصلول وي.

e. پنځمه مرحله کې د ناټو او نورو هغو هېوادونو ملاتړ حاصلول وي چې زموږ انکشافي شریکان پاتې شوي او د جګړې په ډګر کې او انکشافي کارونو کې یې زموږ ملاتړ کړی.

f. د دې مرحله ییزې تګلارې پایله به دا وي چې په مناسب وخت کې له هرې خوا سره تعامل کېږي.

6. د افغان حکومت ژمنتیا ښودلو لپاره موږ د دری اقداماتو وړاندیز کوو:

I. د سولې هوکړې پلي کول به د تعین شوي مهال وېش له مخې کېږي.

II. تر څو دا وښیو چې حکومت په واقعي ډول سولې ته ژمن دی، د خبرو له پیل سره به د اعتماد سازی لپاره اقدامات کېږي. زموږ وړاندیز دا دی چې دېری اقدامات په پیل کې وشي، دې کار ته د سیاسي ارادې اړتیا شته.

III. د بحثونو په ترڅ کې به په ملي کچه د یوې مصوبې په میکانیزم توافق ته رسېږو. دا میکانیزم کېدی شي پارلمان وي، لویه جرګه وي (لکه څرنګه چې په اساسي قانون کې ذکر شوی) یا هم ټولپوښتنه.

اوس یوه پوښتنه چې ډېری وخت را ولاړېږي د سولې او ولسمشریزو ټاکنو تر منځ پر اړیکې ده. اجازه راکړئ چې مستقیما د دې موضوع بېخ ته لاړ شم — د سولې هوکړې تصویب، د هغه عملي کولو او تولنیزې مصالحې رهبري کولو لپاره یو منتخب حکومت ته اړتیا ده. زه په تضمین ویلی شم چې هر بل حکومت به د سولې په څېر حساسي موضوع ته د رسیدګي څخه انکار کړی وای. ما او ډاکټر عبدالله د سولې راوستل خپل ټاکنیزه موخه ټاکلې وه او داسي احساس کوو چې دا زموږ دنده او مسؤلیت دی تر څو دې ملي ارمان ته د رسېدو لپاره د خپل حکومت دورې تر آخرې شېبې هلې ځلې وکړو.

مګر غواړم په واضح ډول یې ووایم چې د ممکنې سولې پروسې پلي کول او همدارنګه په پاکستان او ایران کې د ۴ میلیونو افغان مهاجرینو بیا استقرار به لږ تر لږه پنځو کلونو ته اړتیا ولري.

موږ باید له یاده و نه باسو چې ۴۰٪ افغانان د فقر تر کرښې لاندې اوسېږي او محیطي بدلونونو او وچکالی زموږ د خلکو ژوند ډېر متضرره کړی او زموږ طبیعي پانګې یې له تباهی سره مخ کړي.— زموږ ځرځایونه، د اوبو رودخاني او نورې طبیعي زېرمې له سختې تباهی سره مخ دي.

دسولې په اړه ملي اجماع ته په کتو، زه ډاډه یم چې مخکښ ولسمشریز نوماندان به موږ سره لاس یو کړي تر څو د سولې یوې هوکړې ته ورسېږو. ولسمشریزې ټاکنې پر سولې یوې حقیقي ملي مباحثې ته یو مناسب بستر برابروي، تر څو جګړه پای ته ورسېږي او پایداره سوله راشي.

## سیمه ییزه اجماع

څرنګه چې موږ ۳۹ کاله په جګړه کې تېر کړي او ۴ میلیونه افغان مهاجرین په ګاونډیو هېوادونو کې اوسېږي، افغانستان کې سوله د سیمه ییزې اجماع تجدید ته اړتیا لري.

د سپټمبر د یولسمي پېښې څخه وروسته، د یو باثباته افغانستان لپاره سیمه ییزه اجماع یو دمي رامنځته شوه. مګر نن سیمه ییزه اجماع باید بیا تجدید شي، ځکه چې ځینې عناصر خپلو سیالانو سره د شطرنج

لوبې یوې برخې په نظر موږ ته ګوري او یا د افغانستان ثبات په هکله غیر مطمئين دي. موږ استدلال کوو چې یو با ثباته افغانستان د سیمه ییزې همکارۍ، ثبات او ترقۍ ته ضروري دی. موږ په پنځو ساحو کې د تمرکز او بدلون وړاندیز کوو.

1. لومړی، موږ باید دا تفکر چې افغانستان د خطر ساحه ده او د نیابتي جګړو میدان دی، دې ته بدل کړو چې افغانستان د موقعیت او ستراتیژیک فکر په اساس د همکارۍ بستر دی. افغانستان د معلوماتو، محصولاتو او آیده ګانو د تبادلې ځلورلاره ده. په تېرو پنځو کلونو کې موږ رغنده نظریات وړاندې او تعقیب کړل او په عمل کې مو خپلو سیمه ییزو ګاونډیو ته وښودله چې د همکارۍ ګټه تر سیالۍ ډېره ده. د شانګهای په کنفرانس کې مو دغه نظر وړاندې کړ، او له نېږکه مرغه د هندوستان، چین او ازبکستان په شمول ډېرو رهبرانو زموږ نظر تائید کړ.
2. د تفکر دغه بدلون باید د پالیسۍ بدلون سبب هم شي. ترکمنستان، ازبکستان، قزاقستان، تاجکستان او اذربایجان سره زموږ اړیکو وښودله چې د پالیسیو بدلون د اقتصادي همکارۍ او حکومتي همغږۍ ته لار اواره کړه. د تفکر او پالیسیو بدلون څخه په منني، افغانستان نن د مرکزي آسیا یو اساسي شریک دی. هندوستان او اوس چین، ترکیې او اروپا سره د هوایي کوریدور جوړول یې یوه بله بېلګه ده چې د پالیسۍ بدلون څنګه متقابلې او تل پاتې ګټې تثبیتوي.
3. دریم، موږ خپلو ټول ګاونډیو سره په تاکید د سولې غوښتونکي یوو. موږ هېڅکله خپلو ګاونډیو ته کوم ګواښ نه دی مخامخ کړی ـ دې کې زموږ ملي ګټې نه دي نغښتې. علاوه پر دې پرته د افغانستان له لارې د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا تر منځ هېڅ دایمي اقتصادي اړیکې نشي تأمينېدلی.
4. څلورم، موږ په سیمه ییزه کچه طالبانو سره د سولې لپاره یوه همغږې تائیدي او تضمین غواړو.
5. پنځم، موږ په دې نظر یوو چې د امنیت، مخدره موادو او تروریزم په وړاندې د مبارزې لپاره یوې سیمه ییزې هوکړې ته اړتیا لرو، او داسې اداري جوړښتونو جوړولو ته اړتیا لرو تر څو زموږ د ټولو امنیت او سوکالۍ ساتنه وکړي. سیمه ییز محیط د سیاسي پولو په اساس پر مخ نه ځي. د اوبو مدیریت زموږ د ټولو په ګټه ده. موږ د دې وړاندیز کوو تر څو طبیعي حوادثو ته د رسیدګۍ او طبیعي زېرمو لکه ځنګلونو او اوبو ساتلو کې یوه همغږي ولرو.

## نړیواله اجماع:

غواړم د سپټمبر یولسمې پېښې څخه وروسته افغانستان ته د نړیوالې ټولنې له مرستو مننه وکړم. ستاسې انساني او مالي قربانۍ موږ سره مرسته وکړه تر څو د ۲۰۰۲ کال لویې جرګې او ۲۰۰۴ کال اساسي قانون لویې جرګې په ذریعه خپلو ارمانونو ته ورسېږو.

ځینو افغان رهبرانو د نړیوال ملاتړ طلایي چانس ضایعه کړ او دغه ډول شراکت یې رامنځته نه کړ او د خلکو ارمانونو ته یې پام ونکړ. دا چې ولې، قضاوت به یې تاریخ کوي. د ملي وحدت حکومت توانېدلی چې پر ډېرو ننګونو سربېره او د شدیدې جګړې سره سره ستونزې خپلې کړي او د ملي اجماع په اساس ستونزو ته د حل لاره ولټوي او مخې ته لاړ شي. د دې لپاره چې د سولې شریک هدف ته ورسیږو، موږ خپلو نړیوالو شریکانو ته پنځه ساحې وړاندیز کوو تر څو تمرکز پرې وشي.

1. لومړی، زموږ په رهبري خپل حمايوي نقش ته دوام ورکړئ. موږ نه يواځې خپلې ستونزې تشخيص کړي، بلکې د رهبرۍ لپاره خپل ظرفيت، قضاوت او استقامت هم ښودلی چې په ډېرو ازمايښتي حالاتو کې موږ له خپل مسيره يا لومړيتوبونو څخه نه يوو ګرځېدلي. سوله زموږ ملي غوښتنه ده، او موږ هر يو د خپل رهبريت او مسوليت په ادا کولو کې هر ډول قربانۍ ته تيار يوو.

2. دويم، BSA او SOFA هغه قراردادونه دي چې د يو مستقل افغان حکومت له خوا د امريکا متحده ايالاتو او ناټو سره لاسليک شوي. د دې قراردادونو په اړه بحثونه او په قراردادونو کې د هر تغير مذاکرات يواځې د طرفينو د موافقې په اساس کېږي. زموږ وسله وال ځواکونه بې حده قربانۍ ورکوي، دوی وضاحت او اطمينان ته ضرورت لري چې د دوی ظرفيت او توانايي به په خطر کې نه لوېږي او نه به ضايع کېږي.

3. دريم، د استقلاليت حق د اوسني نړيوال نظام اساس دی. د ملي وحدت حکومت د اصلاح يو واضح او سيستماتيکي اجندا له مخې پر مخ ځي. موږ به خپلې لاسته راوړنې او د اصلاح اجندا وروستي ګامونو توضيحات په مختلفو حاشيوي ناستو او عمومي غونډه کې تاسې سره شريکوو. د استقلاليت دغه حقوق لږ تر لږه دا ايجابوي چې د سولې بحث همغږي او شريک رهبريت موږ سره وي. دوه ګونی برخورد د منلو وړ نه دی—حکومتونو ته بايد اجازه ورنکړل شي چې خپلو هېوادونو کې شورشونه په تشدد سرکوب کړي، او د نورو هېوادونو شورشيانو ته زمينه او بستر اماده کړي. زموږ استقلاليت نقضول به د افغانانو له کلک غبرګون سره مخ شي، افغانان هغه خلک دي چې د تاريخ په اوږدو کې يې د ملګرتيا غږ ته لبيک ويلی، خو د متجاوزينو او مهاجمينو په وړاندې په هر قيمت درېدلي.

4. څلورم، موږ بايد په دې بحثونه پيل کړو چې نړيواله ټولنه د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې ملاتړ وکړي. پر موږ د بې سرحده جګړې تپل کېدل او په افغانستان کې د جګړې څو بعدي ماهيت موږ اړ باسي تر څو ژور تفکر ولرو او بهترين ديپلوماتيک مهارتونه استعمال کړو چې د يو ټاکلي وخت په چوکاټ کې د افغانستان د راتلونکي تضمينولو او بې طرفۍ حفظولو لپاره يوې نتيجې ته ورسېږو. د بين المللي تروريستي سازمانانو ګواښ له منځه وړلو لپاره همغږو هڅو ته اړتيا ده تر څو دا يقيني شي چې زموږ د نړيوالو شريکانو مالي او ځاني قربانۍ ضايع نه شي.

5. پنځم، پايدارې سولې ته د رسېدو لپاره په پروسه کې د نړيوالو شريکانو وړانديزونو او ملاتړ ته اړتيا ده. زموږ له خوا د وړاندې شويو مرحلو تسلسل سره موافقه، يا يو د بديل تسلسل وړانديز، به د سولې پروسې په بريالیتوب کې مرسته وکړي. هغه ساحه کې چې موږ ډېر ملاتړ ته اړتيا لرو، د سولې هوکړې څخه وروسته د افغانستان اړتياوې دي.

موږ به په عمومي غونډه کې په دې رڼا واچوو چې د تحول لسيزي تر پای، ۲۰۲۴ کال پورې افغانستان د خودکفايۍ نقشې تعقيبولو ته ژمن دی. له نېکه مرغه د افغانستان طبيعي زېرمې د دې جوګه دي چې هېواد مو خودکفايۍ ته ورسوي. د همدې لپاره زموږ تاکيد د مرستو په جلبولو نه دی، بلکې پر دې دی چې د مرستو روش بدل شي تر څو مؤثريت او روڼتيا ډېره شي، او سيمه ييز اتصال رامنځته شي، او سوداګري، ترانزيت او د نړيوالو پانګونه ډېره شي. د پايدارې سولې راوستلو لپاره يو متحرک اقتصاد ته اړتيا ده تر څو ټولشموله ودې او د غربت له منځه وړلو ته زمينه جوړه کړي.

د پخوانیو جنګیالیو جذب، طالبانو سره مرسته تر څو په یو سیاسي حزب بدل شي او داسې میکانیزمونه رامنځته کول تر څو د دوی مشروع اندېښنو ته رسیدګي وکړي، او د اعتماد جوړونې لپاره قدمونه پورته کول د یو واقعي پخلاینې اساسي مواد دي.

پخلاینه یوه ټولنیزه پروسه هم ده چې باید یو بل په صداقت ومنو. د اساسي قانون حقونو او وجیبو په چار چوب کې د ملت جوړونې پروسه هم په مساوي توګه زموږ پاملرنې ته اړتیا لري.

له ګډوډۍ، جګړې، جنایت او فساد څخه ثبات، سولې، سوکالۍ او شمولیت دغه سفر کې د افغان ځوانانو او ښځو ونډه حیاتي ده. په میلیونونو هغه افغانان چې نن په وېره کې ژوند کوي باید هیله مندۍ ته مخه کړي او داسې فرصتونه رامنځته کړي چې موږ د خپل برخلیک ټاکونکي کړي.

زه هیله لرم او دعا کوم تر څو موږ وتوانیږو سولې ته د رسېدلو لپاره خپل لید په عمل بدل کړو، او دا یقیني کړو چې سوله با اعتباره او پایداره وي. موږ ستاسې ملاتړ ته اړتیا لرو او له تاسې څخه مننه کوو چې له موږ سره تعامل کوئ.